# مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ العِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا». «هېڅ داسې ورځ نشته چې بنده ګان پکې سهار کړي مګر دا چې دوه ملاېکې راښکته کېږي او یوه یې وايي چې: اې الله هغه چاته د ورکړې بدله ورکړه چې (په نورو) انفاق او لګښت کوي او بله یې وايي: اې الله! د هغه چا مال برباد کړه چې له نورو يې سپموي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ العِبَادُ فِيهِ إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلاَنِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا». «هېڅ داسې ورځ نشته چې بنده ګان پکې سهار کړي مګر دا چې دوه ملاېکې راښکته کېږي او یوه یې وايي چې: اې الله هغه چاته د ورکړې بدله ورکړه چې (په نورو) انفاق او لګښت کوي او بله یې وايي: اې الله! د هغه چا مال برباد کړه چې له نورو يې سپموي».

[صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی)]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هره ورځ چې لمر راخيژي، دوه ملاېکې راښکته کېږي او اواز کوي: يوه يې وايي چې: اې الله! څوک چې په طاعتونو، اولادونو، ميلمنو او د خير کارونو کې لګښت کوي هغه ته د لګول شوي مال څخه ډېره بدله ورکړه او برکت ورته پکې واچوه. او بله وايي: اې الله! څوک چې پدې کارونو کې لګښت نه کوي مال يې تلف کړه، او هغه مال يې برباد کړه چې له اړمنو څخه يې منع کړی دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3379